د روت کِتاب

پېژندګلو

روت د وفا او مینې یوه قیصه ده او په دې کښې خُدائ پاک د وفاداریِ اجر په لوئ برکت سره ورکوی. دا کِتاب مونږ ته د یوې موآبی کونډې په حقله قیصه بیانوی، چا چې د خپلې بنی اِسرائیلیِ خوابنې په مینه کښې خپل خلق او دستور پرېښودو او وې وئیل چې ستا خلق به زما خلق وی او ستا خُدائ پاک به زما خُدائ پاک وی. اګر چې هغه په خپله غریبه وه او د نورو خلقو د مهربانیِ حاجتمنده وه، د روت ښځ کردار او رویی د بوعز توجو حاصله کړه، څوک چې د هغې د مرحوم خاوند رشتهدار وو. بوعز په هغې ترس وکړو او هغې سره یې وادۀ وکړو. دا کِتاب یو زبردست مثال دے چې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

څنګه خُدائ پاک د خپلو خلقو خیال ساتی او د ټولو قومونو هغه خلق قبلوی څوک چې د هغۀ لټون کوی. د حفظ کولو دپاره ۱:۱۷ آیت ”چې چرته مړې، هلته به مرم، چې چرته ښخېږې هلته به ښخېږم. مالِک خُدائ دې ما ته په قهر شی کۀ د مړګ نه بغېر په بل څۀ ستا نه جدا شم.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د اِلی‌مَلِک د خاندان موآب ته تلل

۱-۲ ډېر پخوا، چې کله قاضیانو په بنی اِسرائیلو حکومت کولو نو په هغه مُلک کښې قحط راغلو. یو سړے اِلی‌مَلِک، چې افراتے وو، هغه د یهوداه په بیت‌لحم کښې اوسېدو، د خپلې ښځې نعومی او د دوو زامنو محلون او کِلیون سره موآب ته د ځۀ وخت دپاره لاړو.
دوئ لا هلته اوسېدل ۳ چې اِلی‌مَلِک مړ شو، نو نعومی د دوو زامنو سره یواځې پاتې شوه، ۴ نو هغوئ د موآبۍ ښځو عرفه او روت سره ودونه وکړل. تقریباً لس کاله وروستو ۵ محلون او کِلیون هم مړۀ شول، او نعومی بېخی یواځې پاتې شوه، چې نۀ یې خاوند وو او نۀ زامن.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د نعومی او روت بیت‌لحم ته واپس راتلل

۶ څۀ وخت وروستو نعومی خبر شوه چې مالِک خُدائ خپلو
خلقو ته د فصلونو نعمت ورکړو، هغه د اِنږوریانو سره د موآب نه تللو
ته تیاره شوه. ۷ دوئ یو ځائ یهوداه ته واپس روانې شوې، خو په
لاره کښې ۸ نعومی هغوئ ته ووئیل، ”تاسو کور ته واپس لاړې
شئ او د خپلو میندو سره اوسږئ. مالِک خُدائ دې په تاسو مهربانه
وی لکه څنګه چې تاسو په ما او زما په مړو زامنو مهربانه وئ. ۹ او
مالِک خُدائ دې وکړی چې تاسو دواړه بیا وادۀ شئ او خپل کورونه
آباد کړئ.“ نو نعومی هغوئ رخصتولو دپاره ښُکلې کړې. خو هغوئ
په ژړا شوې ۱۰ او هغوئ هغې ته ووئیل، ”نه، مونږ به تا سره ستا
مُلک ته ځُو.“ ۱۱ نعومی په جواب کښې ورته ووئیل، ”زما لونړو،
تاسو واپس لاړې شئ، تاسو ما سره ولې تلل غواړئ؟ په دې خیال

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې زما به بيا زامن وشی او هغوئ به تاسو وادۀ کړی؟ ۱۲ واپس
خپلو کورونو ته لاړې شئ، زۀ ډېره بوډی او د بيا وادۀ کېدو نۀ يم.
کۀ چرې زۀ داسې وګڼم چې تر اوسه څۀ اُميد شته، نو کۀ نن شپه
وادۀ هم شوم او زما زامن وشول، ۱۳ تاسو به د هغوئ د غټېدو اِنتظار
کوئ څۀ؟ دا به تاسو د بل چا سره د ودېدو نه ايساروی څۀ؟ نه، زما
لونهو، تاسو ته پته ده چې دا نۀ شی کېدے. مالِک خُدائ زما مل نۀ
دے، په تاسو زما زړۀ سوزی.“ ۱۴ دوئ بيا په ژړا شوې. عرفه په
مخه ښه وئيلو دپاره خوابنې ښُکله کړه او واپس کور ته لاړه، خو
روت د هغې لمن نيولې وه. ۱۵ نو نعومی هغې ته ووئيل، ”اے
روت، ستا يور خپلو خلقو او د هغوئ معبودانو له لاړه. هغې پسې
واپس کور ته لاړه شه.“ ۱۶ خو روت ورته ووئيل، ”ما د ځان نه مۀ
شړه، ما ته مۀ وايه چې درنه ايساره شم. چې چرته ځې، هلته به
ځم، چې چرته اوسې، هلته به اوسم. ستا خلق به زما خلق وی، او
ستاسو خُدائ پاک به زما خُدائ پاک وی. ۱۷ چې چرته مرې،
هلته به مرم، چې چرته ښخېرې هلته به ښخېرم. مالِک خُدائ دې ما

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ته په قهر شی کۀ د مرګ نه بغېر په بل څۀ ستا نه جدا شم.“ ۱۸
کله چې نعومی ته پته ولګېده چې روت د تلو کلکه اراده کړې ده،
نو هغې نور څۀ ورته ونۀ وئیل. ۱۹ دوئ مزل کولو چې بیت‌لحم ته
ورسېدې. د هغوئ په رسېدو، د ښار ټول خلق د هغوئ په نندارە
شول، او ښځو ووئیل، ”دا په رښتیا نعومی ده؟“ ۲۰ هغې ووئیل،
”ما ته نعومی مۀ وایئ، ما ته ماره وایئ، ځکه چې قادر خُدائ زما
ژوند تریخ کړے دے. ۲۱ زۀ بختوره لاړم، خو مالِک خُدائ تش
لاس سپېره راولېږلم. ما ته ولې نعومی وایئ، چې قادر خُدائ زۀ
غورزولې یم. او هغۀ په سختیِ کښې اچولې یم؟“ ۲۲ نو داسې،
نعومی د خپلې موآبی اِنږور روت سره د موآب نه واپس راغله. د
اوربشو لَو شروع وو، چې دوئ بیت‌لحم ته ورسېدلې.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د روت د بوعز په پټی کښې کار کول

۱ د نعومی یو رشتەدار وو چې نوم یې بوعز وو، دا یو مالدار او
مشر سړے وو، کوم چې د هغې د خاوند اِلی‌مَلِک د خاندان نه وو.
۲ یوه ورځ روت نعومی ته ووئیل، ”ما پریږده چې پټو ته لاړه شم
چې د لَوکرو نه پاتې شوی وَږی راټول کړم. زما یقین دے چې څوک
به مې د ځان سره پریږدی.“ نعومی ورته ووئیل، ”ځه لورې، لاړه
شه.“ ۳ روت پټو ته لاړه او لَوکرو پسې وروستو پاتې شوی وَږی یې
راټولول. نو داسې وشول چې هغه د بوعز په پټی کښې وه. ۴ په
دې کښې بوعز په خپله د بیت‌لحم نه راغلو. او لَوکرو ته یې سلام
وکړو، او ورته یې ووئیل، ”مالِک خُدائ مو مل شه.“ او هغوئ په
جواب کښې ووئیل، ”مالِک خُدائ دې بختور کړه.“ ۵ بوعز د
لَوکرو مشر نه تپوس وکړو، ”دا ځوانه ښځه څوک ده؟“ ۶ مشر

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

جواب ورکړو، ”دا ځوانه ښځه د نعومی سره د موآب نه راغلې ده.
۷ هغې ما ته ووئیل چې ما په لَوټکرو پسې پاتې شوو وږو راتولولو ته
پرېږده. هغه د سحر وختی نه تر اوسه پورې کار کوی او د لږې
لحظې دپاره دالان لاندې دمې ته کښېناسته.“ ۸ بیا بوعز روت ته
ووئیل، ”زما خبره واوره، د دې پټی نه بغېر بل ځائ کښې وَږی مۀ
ټولوه، دلته د ښځو سره یو ځائ اوسه، ۹ سړو ته ګوره چې چرته
هغوئ لو کوی نو په هغوئ پسې شاته ښځو سره کار کوه. ما خپلو
سړو ته وئیلی دی چې هغوئ تا نۀ تنګوی. هر کله چې تۀ تږې
شې، نو د هغې منګو نه اوبۀ څښنه چې دوئ ډک کړی دی.“ ۱۰
روت د عزت نه پرمخې په زمکه پرېوته، او بوعز ته یې ووئیل، ”زۀ
ولې ستاسو په نظر کښې درنه یم؟ تاسو ولې په ما مسافرې دومره
مِهربانه یئ؟“ ۱۱ بوعز ووئیل، ”زۀ د هر څۀ نه خبر یم چې تا د
خاوند د مرګ نه پس د خوابنې څومره خِدمت کړے دے. ما ته پته
ده چې تا څنګه مور پلار او خپل مُلک پرېښودو او هغه خلقو له
راغلې چې تا مخکښې نۀ پېژندل. ۱۲ مالِک خُدائ دې تا له د دې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بدل درکړی. مالِک خُدائ دې تا له پوره اجر درکړی، کوم چې د
بنی اِسرائیلو خُدائ پاک دے، چې ورته د پناه دپاره راغلې یې.“
۱۳ روت ورته ووئیل، ”نېکه، تۀ په ما ډېر مِهربانه یې. ستاسو نرمو
خبرو زۀ په آرام کړې یم، سره د دې چې زۀ ستاسو د وینځې برابره
هم نۀ یم.“ ۱۴ د خوراک په وخت بوعز روت ته ووئیل، ”روټی
واخله، او دا سرکې سره وخوره.“ نو هغه د لَوګرو سره کښېناسته، او
بوعز څۀ وریتې دانې هم هغې له ورکړې. هغې دومره وخوړه چې پرې
ښۀ مړه شوه، او څۀ خوراک پاتې هم شو. ۱۵-۱۶ کله چې هغه وَږو
ټولولو له ورغله، بوعز لَوګرو ته حُکم وکړو، ”پرېږدئ چې هغه وَږی هم
راټول کړی چرته چې ګډۍ پرَتې دی، او هغه بېخی مۀ منع کوئ.
د دې نه علاوه، څۀ وَږی د ګډۍ نه ورله راوباسئ چې هغه یې راټول
کړی.“ ۱۷ نو روت تر مانښامه پورې په پټی کښې وَږی راټولول، کله
چې هغې دا ټول وټکول، تقریباً اتۀ سېره وُو. ۱۸ نو هغې دا ښار ته
یوړل او خوانې ته یې وښودل چې هغې خومره راټول کړی دی. او د
هغې د خوراک نه پاتې شوې وریتی دانې یې هم هغې له ورکړې. ۱۹

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نعومی د هغې نه تپوس وکړو، ”تا نن دا دومره وَړی چرته نه راټول کړی دی؟ تا د چا په پټی کښې کار کولو؟ هغه سړے دې بختور شی چې ستا خیال یې وساتلو.“ نو روت نعومی ته ووئیل چې، ”نن ما د چا په پټو کښې کار کولو د هغه سړی نوم بوعز دے.“ ۲۰ نعومی ووئیل، ”مالِک خُدائ دې بوعز بختور کړی. مالِک خُدائ همېشه د مړو او ژوندو سره وعدې پوره کوی.“ هغې دا هم ووئیل چې، ”هغه سړے زمونږ نزدې رشتەدار دے، هغه زمونږ د خیال ساتلو ذمه وار دے.“ ۲۱ بیا روت ووئیل، ”د دې نه ښۀ خبره دا ده، چې هغۀ ما ته ووئیل چې د لَوګرو د کار تر ختمولو پورې وَړی راټولوه.“ ۲۲ نعومی روت ته ووئیل، ”آو لورې، دا به ډېره ښۀ وی چې د بوعز په پټو کښې د ښځو سره کار کوې. کۀ چرې تۀ د بل چا پټو ته لاړې نو څوک به لاس درواچوی.“ ۲۳ نو روت د هغوئ سره کار کولو او وَړی یې راټولول، تر هغې پورې چې ټول غنم او اوربشې ورېبلے شوې. او د خپلې خوابنې سره اوسېده.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د روت د بوعز په درمند کښې کار کول

۱ څۀ وخت وروستو نعومی روت ته ووئیل، ”زۀ به خامخا ستا
دپاره خاوند لټوم، چې ستا خپل کور آباد شی. ۲ دا یاد ساته چې
بوعز، د چا د ښځو سره چې تا کار کولو، هغه زمونږ رشتەدار دے.
اوس دا خبره واوره، هغه به نن شپه په درمند کښې اوربشې بادوی.
۳ نو ولامبه، عطر ولګوه، او د ټولو نه ښې جامې واچوه. او بیا
لاندې درمند ته لاړه شه، خو چې هغۀ ته دا پته ونۀ لګی چې تۀ
هلته یې تر هغې پورې چې هغۀ خوراک څښاک ختم کړے نۀ وی.
۴ تۀ ورته ګوره چې هغه چرته خملی، چې کله هغه اودۀ شی، نو
لاړه شه او د هغۀ نه څادر اوچت کړه او ورسره اوده شه. نو هغه به
تا ته ووائی چې تۀ به څۀ کوې.“ ۵ روت ووئیل، ”زۀ به هم هغه
شان وکړم لکه څنګه چې تا ما ته ووئیل.“ ۶ نو روت درمند ته لاړه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او چې څنګه خوابنې ورته وئیلی وُو هم هغه شان یې وکړل. ۷ کله
چې بوعز خوراک څښاک ختم کړو، نو هغه ښځ په سور کښې وو.
هغه د اوربشو ډېری له لاړو او څملاستو. روت غلې غلې ورغله،
څادر یې تړې اوچت کړو او هغځ سره اوده شوه. ۸ هغه د شپې
ناڅاپه راویښ شو، په بل مخ واوړېدو، نو حېران شو چې هغځ سره یوه
ښځه اوده ده. ۹ هغځ تړې تپوس وکړو، ”تۀ څوک یې؟“ هغې
جواب ورکړو، ”زۀ روت یم، ستا د پښو خاوره، په ما نظر وکړه،
ځکه چې تۀ زما نزدې رشتەداره یې.“ ۱۰ هغځ ووئیل، ”مالِک
خُدائ دې بختوره کړه. تۀ اوس د هغې نه هم لویه وفاداری ښائې
چې تا د خوابنې دپاره څۀ کړی وُو. تا کولے شول چې یو ځوان
سړے دې خوښ کړے وے، مالدار یا غریب، خو تا داسې ونۀ
کړل. ۱۱ خو روت، اوس خفه کېږه مه. چې تۀ څنګه غواړې زۀ به
هم هغه شان وکړم، لکه چې په ښار کښې ټولو خلقو ته پته ده، چې
تۀ یوه شریفه ښځه یې. ۱۲ دا رښتیا دی چې زۀ ستا نزدې رشتەدار
یم او زۀ ستا خیال ساتم، خو دلته ستا، زما نه نزدې بل خپل هم

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شته. ۱۳ پاتې شپه دلته تېره کړه، او سحر به مونږ وګورو چې هغه
ستا ذمه واری اخلی یا نه. کۀ اخلی، نو ټیک ده، او کۀ نۀ اخلی،
نو زۀ بیا په ژوندی مالِک خُدائ قسم کوم چې زۀ به ستا خیال
ساتم. نو اوس دلته تر سحره پورې پاتې شه.“ ۱۴ نو هغه ورسره هلته
اوده وه او د چرګ د بانګ نه مخکښې پاخېده چې څوک یې ونۀ
وینی، ځکه چې بوعز نۀ غوښتل چې چا ته دا پته ولګی چې د هغې
شپه هلته وه. ۱۵ بوعز هغې ته ووئیل، ”خپل څادر دلته خور کړه.“
او هغې هغه خور کړو، او هغۀ هغې له تقریباً شپاړس سېره اوربشې په
څادر کښې واچولې او هغه پنډ یې ورپه سر کړو. او هغه ښار ته
واپس راغله. ۱۶ کله چې هغه کور ته راغله، خواښې ترېنه تپوس
وکړو، ”لورې، څۀ چل وشو؟“ نو روت هغه هر څۀ ورته ووئیل چې
بوعز د هغې دپاره کړی وُو. ۱۷ روت دا هم ووئیل چې، ”هغۀ ما ته
وئیلی وُو چې تۀ خپلې خواښې له خالی لاسونه مۀ ځه، نو هغۀ ما له
دومره ډېرې اوربشې راکړې.“ ۱۸ نعومی ورته ووئیل، ”زما لورې اوس
صبر کوه چې د دې خبرې څۀ حل راونۀ وځی نو بوعز به تر هغې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پورې په قلاره نۀ کښېنی چې نن دا مسئله حل نۀ کړی.“

د بوعز روت سره وادۀ کول

۱ نو بوعز د ښار په دروازه کښې د جرګې ځائ ته لاړو او هلته
کښېناستو. بیا د اِلی‌مَلِک نزدې رشته‌دار، چې بوعز د هغۀ په حقله
وئیلی وُو، راغلو، نو بوعز ورته آواز وکړو، ”زما ملګریه، دېخوا راشه،
او دلته کښېنه.“ هغه ورَغلو او هلته کښېناستو. ۲ بیا بوعز د ښار
لس مشران راغوندۀ کړل او هغوئ ته یې هم ووئیل چې کښېنئ او
هغوئ کښېناستل. ۳ هغۀ رشته‌دار ته ووئیل، ”اوس نعومی د موآب
نه واپس راغلې ده، هغه زمونږ د رشته‌دار اِلی‌مَلِک پټے خرڅول
غواړی، ۴ زما خیال دا دے چې تۀ د دې په حقله خبر شې. نو
بیا، کۀ دا اخستل غواړې، نو د دې ناستو کسانو په مخکښې ووایه،
او کۀ نۀ غواړې، نو هم ووایه، ځکه چې د دې اخستلو اول حق ستا
دے او بیا زما.“ هغه سړی ووئیل، ”زۀ به دا واخلم.“ ۵ بوعز

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ووئيل، ”ډېره ښځه ده، کۀ تۀ د نعومی نه پټے اخلې نو ورسره روت هغه موآبۍ کونډه به هم اخلې، نو دا پټے به د مړی د خاندان په میراث کښې راځی.“ ۶ هغۀ جواب ورکړو، ”نو په دې وجه زۀ بیا داسې نۀ شم کولے، زۀ خپل حق پرېږدم، کۀ تۀ یې اخستل غواړې نو وا یې خله. ځکه چې د دې مطلب دا دے چې دا به زما د بچو میراث نۀ وی. نو هم تۀ یې واخله، زما نۀ دے په کار.“ ۷ په هغه ورځو کښې، د اخستلو خرڅولو او د جائیداد بدلولو، دا رِواج وو چې خرڅوونکی به خپله څپلۍ وویستله او اخستونکی له به یې ورکړله. په بنی اِسرائیلو کښې د دې مطلب دا وو چې خبره پخه شوه. ۸ نو کله چې سړی بوعز ته ووئیل چې، ”تۀ پټے واخله،“ هغۀ خپله څپلۍ وویستله او بوعز له یې ورکړه. ۹ نو بیا بوعز مشرانو او هلته نورو کسانو ته ووئیل، ”تاسو ټول ګواه اوسئ چې ما د نعومی نه ټول څیزونه واخستل چې هغه د اِلی‌مَلِک او د هغۀ د زامنو کِلیون او محلون دی. ۱۰ او ورسره موآبۍ روت، د محلون ښځه، زما ښځه شوه. د دې په وجه به جائیداد د مړی په خاندان کښې پاتې شی،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او دا میراث به د هغۀ د خاندان نوم د هغۀ په خلقو او د هغۀ په
کلی کښې ژوندے وساتی. تاسو نن د دې خبرې ګواهان یئ.“ ۱۱
مشرانو او نورو کسانو ووئیل، ”آو، مونږ ګواهان یُو. مالِک خُدائ
دې ستا ښځه د راحیل او لِیاه په شان کړی، چې هغوئ د یعقوب
کور آباد کړو. تۀ دې په اِفرات کښې مالدار او په بیت‌لحم کښې
مشهور شې. ۱۲ او د دې ځوانې ښځې نه چې مالِک خُدائ کوم
بچی درکړی هغوئ دې ستا خاندان د فارص د خاندان په شان جوړه
کړی، چې هغه د یهوداه او تامار زوئ وو.“

د حضرت داؤد نسب‌نامه

۱۳ نو بوعز د روت سره وادۀ وکړو او کور ته یې بوتله. مالِک
خُدائ هغه بختوره کړه، او هغه اُمیدواره شوه او یو زوئ یې وشو. ۱۴
ښځو نعومی ته ووئیل، ”د مالِک خُدائ ثناء ووایه چې هغۀ تا له نن
نمسے درکړو چې ستا خیال وساتی. دا هلک دې په بنی اِسرائیلو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کښې مشهور شی. ۱۵ ستا اِنږور تا سره مینه کوی، هغې ستا دپاره د
اوو زامنو نه ډېر څۀ کړی دی. اوس د هغې ماشوم پیدا شوے دے،
هغه به تا له یو نوے ژوند درکړی او هغه به ستا په آخری عُمر کښې
خیال ساتی.“ ۱۶ نو نعومی ماشوم واخستو، سینې ته یې جُخت
کړو او د هغۀ خیال یې ساتلو. ۱۷ د ګاونډ ښځو د ماشوم نوم عوبید
کېښودو. هغوئ هر چا ته وئیل، ”د نعومی کره ماشوم شوے دے.“
عوبید د یَسی پلار شو، چې هغه د داؤد پلار وو. ۱۸-۲۲ دا د فارص
اولاد دے، حصرون زوئ د فارص وو، رام زوئ د حصرون،
عمی‌نداب زوئ د رام، نحشون زوئ د عمی‌نداب، سلمون زوئ د
نحشون، بوعز زوئ د سلمون، عوبید زوئ د بوعز، یَسی زوئ د
عوبید او داؤد زوئ د یَسی وو.

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.6699
pashtobibles.org © یوسفزی ۲۰۱۹